**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**
**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**۱۵ / جمادی الثاني /۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۸ / جدی /۱۴۰۲هـ، ش**

# د رزق او روزي د زیادت او پراخوالي سببونه

الحمد لله خالق الخلق، وباسط الرزق، فتنة وابتلاءً منه لعباده ليميز الطائعين الشاكرين من العاصين الجاحدين. والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين، وعلى آله وأصحابه وأتباعه إلى يوم الدين، أما بعد:

قال الله عز وجل : {قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُـــطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَـــاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ لَهُ وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ} سبأ: ۳۹

په دې کې شک نشته چې د رزق او روزی د زیاتوالي او پراخوالي لپاره هر انسان زیار باسي او کوښښ کوي.

همدا راز لکه څرنگه چې الله تعالی انسانان د شکل او صورت له پلوه مختلف پیداکړي دي دغه شان د رزق د زیادت او کمي له پلوه یې هم متفاوت پیداکړي دي.

د رزق زیادت او پراخوالی ددوه ډوله اسـبابو له لارې څخه ممکن ده چې یو یې مادي اسـباب دي لکه تجارت، زراعت ، صنعت ... او بل یې شرعي او دیني اسباب دي چې د شرعي او دیني سببونو تشریح په لاندې ډول ده:

**۱- تقوا او پرهیزگاري اختیارول:** تقوا او پرهیزگاري د رزق او روزي د پراخوالي او برکت لومړی سبب دی.

تقوا او پرهیزگاري دالله تعالی په اوامرو عمل کول او الله تعالی د منهیاتو څخه ځان ساتل دي .

الله جل جلاله د رزق د پراخوالي او زیادت په اړه فرمایلي دي: {وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا . وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ} الطلاق:۲-۳

ترجمه:- او هغه څوک چې له الله نه وویریږي (نو) هغه به دده لپاره د وتلو څه ځای پیدا کړي او ده ته به له هغه ځایه رزق ورکړي چې دی به گمان هم نه کوي.

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایلي دي : {وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَكِنْ كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ}الأعراف:۹۶

ترجمه:- او که چیرې د کليو اوسـيدونکو ايمان راوړی وی او پرهيزګاره شـوي وی(نو) مونږ به خامخا په دوی باندې له آسـمان او ځمکې نه برکتونه پرانيسـتلي وای او ليکن دوی تکذيب وکړ نو مونږ دوی دهغو عملونو په سـبب ونيول چې دوی کول.

الله جل جلاله د اهل کتابو په اړه فرمايي:{وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِمْ مِنْ رَبِّهِمْ لَأَكَلُوا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ}المائدة:٦٦
ترجمه:- او که يقينا دوی (احکام) د تورات او انجيل قائم کړي وی او هغه چې دوی ته ددوی د رب له جانبه نازل کړی شوي دي (نو) دوی به خامخا خوراک کړی ؤ دخپل د پاسه نه او دخپلو پښو له لاندې نه.
څوک چې دالله تعالی دياد او دين څخه مخ واوړي ژوند به يې تنګ وي. {وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَـةً ضَـنكًا } طه: (١٢٤)

ترجمه:- او هغه څوک چې زما له ذکر (قرآن ) نه مخ وګرځوي نو بيشکه دده لپاره ډير تنګ ګذران (او ژوند) دی.
(عن عمران بن حُصَـين قال: قال رسـول الله صـلى الله عليه وسـلم: من انقطع إلى الله كفاه الله كل مَئُونة، ورزقه من حيث لا يحتسب، ومن انقطع إلى الدنيا وكَلَه إليها).مسند الشهاب (١/ ٢٩٨)
ترجمه:- د عمران بن حصـين رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم فرمايلي دي: څوک چې ځان فارغ کړي الله تعالی لپاره (د هغه عبادت ته) الله تعالی به يې کافي شي د هر مشقت څخه او رزق او روزي به ورته ورکړي ددا سې ځای نه چې دی به فکر هم نه کوي او څوک چې ځان فارغ کړي دنياته ، الله تعالی به يې و سپاري دنيا ته.
**٢-په الله تعالی توکل کول:** د مسلمان عقيده بايد داوي چې رزق ورکوونکی او رزق بندوونکی يواځې الله تعالی دی

او هيڅ مخلوق نشي- کولای چې د الله تعالی هغه رزق چې ده لره يې مقرر کړی دی څوک يې ورڅخه واخلي او له چا څخه چې الله تعالی د رزق پراخي اخيستې او رزق يې ورباندې تنګ کړی دی ، پرته له الله تعالی بل هيڅوک نشته چې دده رزق پراخه کړي او زيات يې کړي او په دې عقيده اوسي چې غناء او فقر دواړه د الله تعالی په لاس کې دي او ددې عقيدې ترڅنګ د مشروع لارو څخه د رزق او روزۍ په لټه کې وي ، اميددی چې الله تعالی به يې په رزق او روزۍ کې برکت واچوي او روزي به يې پراخه شي. الله جل جلاله فرمايلي دي:{ وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْـبُهُ }. الطلاق : ٣
ترجمه:- او هغه څوک چې په الله باندې توکل وکړي نو همدی دده لپاره بس (او کافي) دی.

په يو حديث شريف کې راځي:(لَوْ أَنَّكُمْ تَتَوَكَّلُونَ عَلَى اللَّهِ حَقَّ تَوَكُّلِهِ لَرَزَقَكُمْ كَمَا يَرْزُقُ الطَّيْرَ تَغْدُو خِمَا صًا وَتَرُوحُ بِطَانًا). مسند أحمد (١/ ٣٣٢)

ترجمه:- که چيرې تاسـو په الله تعالی ريښـتينې توکل وکړی خامخا به روزي درکړي لکه څرنګه چې مارغانو ته روزي ورکوي چې سهار وځي په داسې حال کې چې وږي وي او ماښام را ګرځي ماړه.

امام ربيع بن خيثم فرمايي: (إن الله تعالى قضى- على نفسـه أن من توكل عليه كفاه ومن آمن به هداه، ومن أقرضـه جازاه، ومن وثق به نجاه، ومن دعاه أجاب له). تفسير القرطبي (١٨/ ١٦٢)

ترجمه:- الله تعالی په خپل ځان باندې ددې فيصله کړی ده چې څوک په الله تعالی توکل وکړي ، الله تعالی به يې کافي شي او چاچې په الله تعالی ايمان راوړ هغه به ورته هدايت وکړي او څوک چې الله تعالی ته قرض ورکړي هغه به ورته

عوض ورکړي او چاچې په الله تعالی تکیه وکړه هغه به ورته نجات ورکړي او څوک چې الله تعالی نه غواړي هغه به یې دعاء قبوله کړي.

**۳- توبه ویستل او استغفار ویل:** انسان طبیعتاً ضعیف دی او د تقصیر او ګناه څخه خالي نه دی او په ماموراتو کې ورڅخه تقصیر واقع کیږي او په منهیاتو کې ښکیل کیږي چې د ګناهونو په ارتکاب سره دانسان د رزق څخه برکت له منځه ځي او د رزق له پراخۍ څخه محروم کیږي.

په حدیث شریف کې راځي: چې ګناه رزق کموي او دګناه په وجه په انسان باندې د روزۍ تنګسی راځي. (إن العبد لَيُحْرَمُ الرزق بالذنب يُصيبُه).ورواه النسائي وابن ماجة،ترجمه: بیشکه بنده خامخا محروم کیږي له رزق څخه په سبب د هغه ګناه چې دی ورته رسیږي.

الله تعالی په یهودو باندې پاکیزه شیان د هغوی د ظلم او ګناهونو په وجه حرام کړي ؤ. الله جل جلاله فرمایي: {فَبِظُلْمٍ مِنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَاتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ كَثِيراً . وَأَخْذِهِمُ الرِّبَا وَقَدْ نُهُوا عَنْهُ وَأَكْلِهِمْ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا} النساء:۱۶۰-۱۶۱.

ترجمه:- نو د یهودیانو شویو خلکو د ظلم کولو په سبب مونږ په هغوی باندې هغه پاکیزه څیزونه حرام کړل چې ددوی لپاره (مخکې) حلال ګرځول شوي ؤ او په سبب د منع کولو ددوی ډیرو (خلکو) لره د الله له لارې نه او (په سبب) ددوی د سود اخیستلو حال داچې دوی ددینه منع کړی شوي ؤ او (په سبب) ددوی په ناحقه خوړلو د خلکو مالونو لره او مونږه په دوی کې د کافرانو لپاره ډیر دردوونکی عذاب تیار کړی دی.

ددې لپاره چې انسان دګناه د کارونو څخه ځان و ساتي او خپل رزق و ساتي او کوم ضرر ورته ونه ر سیږي په ده واجب دي چې له ګناهونو توبه وباسي او په خپلو کړنو پښیماني ښکاره کړي او استغفار ووایې ځکه چې توبه او استغفار ګناهونه محوه کوي او رزق زیاتوي.

الله جل جلاله په سورت هود کې فرمایلي دي:{ ويقوم اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُرْسِلْ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَى قُوَّتِكُمْ} هود: ۵۲

ترجمه:- او ای زما قومه ! له خپل رب نه مغفرت وغواړئ بیا هغه ته رجوع وکړئ هغه به پرتاسو باندې باران راخوشی کړي چې په شیبو شیبو به وریدونکی وي او ستاسو قوت ته به (نور) قوت ورزیات کړي.

په سورت نوح کې الله تعالی فرمایلي دي: { فقلت اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا * يُرْسِلْ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا * وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَارًا }نوح: ۱۰-۱۲

ترجمه:- نو ما (دوی ته ) وویل تاسو د خپل رب نه بښنه وغواړئ بیشکه دی ډیر بښونکی دی ، دی به پرتاسو ښه وریدونکی باران راخو شی کړي او تا سو ته به مالونه او زامن درزیات کړي او تا سو ته به باغونه پیداکړي او تا سو ته به ویالې پیدا کړي.

امام قرطبي ددې آیت په تفسیر کې وایې: (في هذه الآية والتي في هود دليلٌ على أن الاستغفار يستنزل به الرزق والأمطار). تفسير القرطبي (۱۸/ ۳۰۲)

ترجمه:- په دې آيت کې او د سورت هود په آيت کې په دې خبره دليل دی چې استغفار سبب کې د رزق د نازليدو او باران وريدو دی.

امام ابن کثير وايې : (أي إذا تبتم إلى الله واستغفرتموه وأطعتموه كثر الرزق عليكم). تفسير ابن کثير (٨/ ٢٣٣)

ترجمه:- کله چې تاسو الله تعالى توبه وويستله او دهغه نه مو ښښنه وغوښتله او دهغه اطاعت مو وکړ، زيات به شي رزق پر تاسو باندې.

عَنِ الشَّعْبِىِّ قَالَ : خَرَجَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ يَسْتَسْقِى فَلَمْ يَزِدْ عَلَى الاِسْتِغْفَارِ حَتَّى رَجَعَ فَقِيلَ لَهُ : مَا رَأَيْنَاكَ اسْتَسْقَيْتَ فَقَالَ : لَقَدْ طَلَبْتُ الْمطرَ بِمَجَادِيحِ السَّمَاءِ الَّذِى يُسْتَنْزَلُ بِهِ الْمَطَرُ ، ثُمَّ قَرَأَ ( اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا) ( وَيَا قَوْمِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا) السنن الكبرى للبيهقي (٣/ ٣٥٢)

د امام شعبي رحمه الله وايې چې يو ځل امير المؤمنين عمربن الخطاب رضي الله داستسقاء لمانځه لپاره ووتلو چې يواځې د استغفار ويلو څخه يې نور څه زيات نکړل او راوګرځيده. چا ورته وويل چې مونږ خو وانه اوريدل چې تا استسقاء وکړه . هغه ورته وويل ما باران د باران دتږلو لارو نه چې په آسمان کې دي وغوښتلو يعنى هغه کار مې وکړو په کوم سره چې په الله تعالى باران راوروي او بيايې دا آيتونه ولوستل :( اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا) ( وَيَا قَوْمِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا).

په يو بل حديث شريف کې راځي: ( مَنْ لَزِمَ الاِسْتِغْفَارَ جَعَلَ اللَّهُ لَهُ مِنْ كُلِّ ضِيقٍ مَخْرَجًا وَمِنْ كُلِّ هَمٍّ فَرَجًا وَرَزَقَهُ مِنْ حَيْثُ لاَ يَحْتَسِبُ). سنن أبى داود-ن (١/ ٥٦٠)

ترجمه:- څوک چې تل ا ستغفار وايې ، الله تعالى به ورته د هرې سختۍ څخه خلاصون په برخه کړي او د هر غم څخه به ورته خلاصون ور په برخه کړي او رزق به ورکړي ورته دداسې لورې څخه چې هغه به يې ګمان نه کوي.

وشكا رجل إلى الحسن البصري الجدب، فقال له: "استغفر الله"، وشكا آخر الفقر، فقال له: "استغفر الله". وقال له آخر: ادع الله أن يرزقني ولدًا، فقال له: "استغفر الله". وشكا إليه رجلٌ جفاف بستانه، فقال له: "استغفر الله". فقالوا له في ذلك: أتاك رجال يشكون أنواعًا، فأمرتَهم كلهم بالاستغفار. فقال: ما قلتُ من عندي شيئًا، إن الله تعالى يقول في سورة نوح: {فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّاراً * يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَاراً * وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَاراً}. تفسير القرطبي (١٨/ ٣٠٢)

يو سړي حسن بصري رح ته د قحطۍ څخه شکايت وکړ، هغه ورته وويل: استغفرالله ووايه. يو بل سړي شکايت وکړ له فقر څخه ، هغه ته يې هم وويل: استغفرالله ووايه. يو بل کس ورته وويل: دعاء وکړه ماته چې الله تعالى راته زوى راکړي ، هغه ته يي هم وويل: استغفرالله ووايه. يو سړي ورته د باغ د وچيدو په باره کې شکايت وکړ، هغه ته يې هم وويل: استغفرالله ووايه. خلکو ورته په دې اړه وويل: تاته سړي راغلل چې مختلف شکايتونه يي کول ، تا ټولو ته په استغفار امر وکړ؟ هغه وويل: دا ما د ځانه نه دي ويلي، بيشکه الله تعالى په سورت نوح کې فرمايي: {فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّاراً . يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَاراً . وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَاراً}.

**۴-د الله تعالی په لار کې انفاق کول:** د الله تعالی په لاره کې خیرات او انفاق کول د رزق او روزی د زیادت او برکت مهم سبب دی چې ډیری خلک د فقر له ویری ددې سبب څخه غافله دي . په دې اړه په کتاب الله او سنت ر سول الله صلی الله علیه وسلم کې ډیرزیات نصوص راغلي دي چې ځینې یې په لاندې توګه دي:

الله جل جلاله فرمایلي دي:{قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ لَهُ وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ} سبأ: ۳۹

ترجمه:- ته (دوی ته) ووایه بیشـکه زما رب رزق پراخوي چاته چې وغواړي په خپلو بندګانو کې او دهغه لپاره یې تنګوي او تاسو چې څه شی هم لږوی نو هغه ددغه (څیز) عوض درکوي او هغه تر ټولو غوره رزق ورکوونکی دی.

امام ابن کثیر ددې آیت په تفسـیر کې وایي:( أي مهما أنفقتم من شيء فيما أمركم به وأباحه لكم, فهو يخلفة عليكم في الدنيا بالبدل, وفي الآخرة بالجزاء والثواب). تفسیر ابن کثیر / دار الفکر (۳/ ۶۵۲)

ترجمه:- هرڅومره چې تاســو انفاق وکړئ د څه شي په هغه لار کې چې الله تعالی درته پری امر کړی دی او تاســو ته هغه مباح ګرځولی دی، الله تعالی به په دنیا کې درته د هغې عوض در کړي او په آخرت کې به ثواب درکړي.

په یو بل مبارک آیت کې راځي:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَـبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنْفِقُونَ وَلَسْـتُمْ بِآخِذِيهِ إِلَّا أَنْ تُغْمِضُـوا فِيهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ * الشَّـيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَاءِ وَاللَّهُ يَعِدُكُمْ مَغْفِرَةً مِنْهُ وَفَضْلاً وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ}البقرة:۲۶۷-۲۶۸

ترجمه:- ای هغو کســانو چې ایمان یی راوړی دی له هغو پاکو (مالونو) نه انفاق کوئ چې تاســو ګټلي دي او له هغو (مالونو) نه چې مونږه تاســو لپاره له ځمکې نه راایسـتلي دي او له هغه (مال) څخه چې تاسـو یې خیرات کوئ د بیکاره څیز اراده مه کوئ حال داچې تاسـو (په خپله) د هغه اخیسـتونکي نه یی مګر داچې دده په باره کې تاسـو سـترګې پټې کړی او پوه شئ چې یقیناً الله ډیر بې پروا ډیر ستایل شوی دی.

په یو قدسي حدیث کې راځي:( قَالَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَا ابْنَ آدَمَ أَنْفِقْ أُنْفِقْ عَلَيْكَ). صحیح مسلم (۳/ ۷۷)

ترجمه:- الله تعالی فرمایي: ای بني آدمه! صدقه ورکړه ، خرچه به وکړی شي پر تا باندې.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَـلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّمَ قَالَ مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْـبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا وَيَقُولُ الْآخَرُ اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا) . صحيح البخاري (۳/ ۴۶۹)

ترجمه:- دابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې ر سول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي: دا سې ورځ نشته چې سـهار کړي په کې بندګان؛ مګر دوه ملائکې په کې رانښـکته کیږي یوه ملائکه وایې: ای الله ! ورکړئ نفقه کوونکي لره عوض او بله ملائکه وایې : ای الله ! ورکړئ هغه لاس نیونکي ته د نفقې څخه ضیاع (دمال).

( قَالَ النَّوَوِيّ : الْإِنْفَاقُ الْمَمْدُوحُ مَا كَانَ فِي الطَّاعَاتِ وَعَلَى الْعِيَالِ وَالضِّيفَانِ وَالتَّطَوُّعَاتِ). فتح الباري لابن حجر (۵/ ۴۷)

ترجمه:- غوره انفاق هغه دی چې په طاعاتو کې وشي او په اولاد باندې وشي او په میلمه باندې وشي او په خیر یه کارونو کې وشي.

دا آحادیث ټول ددې خبرې ته ترغیب ورکوي چې د خیر په لار کې باید انفاق وشي او زیری ورکوي هغه چاته چې مال نفقه کوي د هغه دمال د زیادت او برکت.

**۵- اړمنو او محتاجو خلکو سره مر سته کول:** د اړمنو سره مالي مر سته کول هغه سبب دی چې الله تعالی وربادنې د مرسته کوونکي په مال کې زیادت راولي او په مال کې یې برکت اچوي.
هرکله چې ر سول الله صلی الله علیه و سلم حضرت سعد رضي الله عنه ولید چې هغه دمال له پلوه په نورو خلکو برتري لري نبي علیه السلام داسې وفرمایل: (هَلْ تُنْصَرُونَ وَتُرْزَقُونَ إِلَّا بِضُعَفَائِكُمْ). صحیح البخاري ت (۷/ ۳۷۵)
ترجمه:- مرسته نه کیږي له تاسو سره او رزق نه درکول کیږي تاسو ته؛ مگر ستاسو د کمزورو خلکو په وجه.
یعنې ستاسو داړمنو او داقتصاد له پلوه د کمزورو خلکو ددعاء په برکت ستاسو سره نصرت او مر سته کیږي او ستاسو رزق زیاتیږي ؛ځکه تاسو ددوی سره مالي مر سته کوی او دوی درته په پاکو زړونو دعاء کوي او ستاسو مال زیاتیږي او تاسو شتمن کیږی.

په یو بل حدیث حدیث شریف کې راځي: (عن أَبَى الدَّرْدَاءِ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « ابْغُونِى الضُّعَفَاءَ فَإِنَّمَا تُرْزَقُونَ وَتُنْصَرُونَ بِضُعَفَائِكُمْ ». سنن أبى داود (۲/ ۳۳۷)

ترجمه:- دابودرداء رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې ماد رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: ولټوئ ما د ضعیفانو سره ، بیشکه تاسو ته رزق درکول کیږي او تاسو سره مر سته کیږي په سبب د ضعیفانو ستاسو.

دا صحیح او صریح حدیثونه دي چې د ضعیفانو سره په مرسته کولو سره رزق او روزي زیاتیږي.

**٦-د الله تعالی په موجوده نعمتونو او رزق باندې شـــکر ویســـتل:** د رزق او روزی د زیاتوالي ســـبب په موجوده نعمتونو او رزق باندې شکر ویستل دي. الله تعالی فرمایلي دي:{وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ}.إبراهيم:۷

ترجمه:- او کله چې ستا سو رب اعلان وکړ چې قسم دی که تا سو شکر وبا سئ (نو) زه به خامخا هرومرو تا سو ته (په نعمتونو کې) اضافه وکړم.

امام قرطبي رحمه الله وایې: دا آیت کریمه نص په دې خبره چې شکر سبب د زیادت د رزق دی. تفسیر القرطبي (۹/ ۳۴۳)

شکر موجوده نعمتونو ته پایښت وربښي او کوم نعمتونه چې نشته هغه راجلبوي. حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله فرمایې: (قيَّدوا نعم الله بشكر الله)الطريق إلى السعادة / عيد الدويهيس (ص: ٤٦)

ترجمه:- وتړئ د الله نعمتونه د هغې په شکر اداء کولو سره.

په نعمت شــکر ویســتل دادی : په زړه کې پر نعمت اقرار، په ژبه دالله تعالی ثناء ویل او نعمتونه په هغه ځای کې استعمالول چې الله تعالی ورباندې راضي کیږي.

**۷- د خپلو خپلوانو سره خپلولي پالل:** بل هغه څه چې په رزق کې زیادت راولي او په روزۍ کې برکت اچوي د مور او پلار سره نیکي کول او د خپلوانو سره خپلولی پالل دي. امام بخاري د رزق د پراخۍ داسـبابو لپاره په خپل کتاب کې دوه بابونه قائم کړي دي یو باب: (بَاب مَنْ أَحَبَّ الْبَسْطَ فِي الرِّزْقِ) او بل باب: (باب من بُسط له في الرزق بصلة الرحم).او دا لاندې حدیث یې په کې ذکر کړی دی : (عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقُولُ:( مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ أَوْ يُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ). صحيح البخاري ت (٥/ ٢٣٥)

ترجمه:- څوک چې په دې خوشحالیږي چې پراخي راوستل شي دده په رزق کې او وروسته شي دده باقي عمر(وروسته شي دده اجل) نو صله رحمي دې وپالي.

په یو بل حدیث کې راځي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَعَلَّمُوا مِنْ أَنْسَابِكُمْ مَا تَصِلُونَ بِهِ أَرْحَامَكُمْ فَإِنَّ صِلَةَ الرَّحِمِ مَحَبَّةٌ فِي الْأَهْلِ مَثْرَاةٌ فِي الْمَالِ مَنْسَأَةٌ فِي أَثَرِهِ). مسند أحمد (١٤/ ٤٥٦)

ترجمه:- ابوهریره رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زده کړئ دخپل نسبونونه دومره چې تاسو ورباندې صله رحمي وکړی ؛ځکه صله رحمي محبت دی په کور کې ، زیاتوالی دی په مال کې ، وروسته کیدل دي د عمر(وروسته کیدل داجل).

په یو بل حدیث کې راځي: (عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَــلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَــلَّمَ قَالَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُمَدَّ لَهُ فِي عُمْرِهِ وَيُوَسَّعَ لَهُ فِي رِزْقِهِ وَيُدْفَعَ عَنْهُ مِيتَةُ السُّوءِ فَلْيَتَّقِ اللَّهَ وَلْيَصِلْ رَحِمَهُ). مسند أحمد (٢/ ٣٨٧)

ترجمه:- حضرت علی کرم الله وجهه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې خوشحالوي داخبره چې په عمر کې یي زیاتوالی راشي او پراخه کړی شي رزق دده او بد مرګ له ده څخه دفع کړی شي نو دالله تعالی څخه دې وویریږي او خپلولي دې وپالي.

عن ابن عمر رضي الله عنهما قال : (من اتقى ربه ووصل رحمه نُسِيءَ في أجله وَثَرى ماله وأَحَبَّه أهلُهُ) الأدب المفرد (ص: ١٣). حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمایي:څوک چې د خپل رب څخه ویره اختیارکړي او خپلولي وپالي، اجل به یې وروسته شي او زیات به شي مال دده او خپلوان به ورسره محبت کوي.
خپلولي پالل مختلف شکلونه لري لکه خپلوانو سره نیکي کول، د خپلوانو زیارت کول، د هغوی حال احوال پوښـتنه کول، د فقیرانو سره یې مرسته کول، د لویانو احترام او قدر کول، د هغوی د غم پروخت غمرازي کول، د خپلوانو په خوشحالیو کې برخه اخیستل او د هغوی سره همکاري کول.
**۸- دعاء غوښتل:** یوه هغه مهمه وسیله چې بنده پری د خپل خالق او رازق ذات سره رابطه ساتي دعاء ده، له الله تعالی نه دخپل صحت دعاء غواړي، د کامیابۍ دعاء غواړي، د غم او مشکل دعاء غواړي او نورې مختلفې دعاګانې کوي .
رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم د رزق د زیادت او دفقر څخه دامان دعاء غوښـتې ده او په دې برخه کې بې شـمیره آحادیث موجود دي لکه:
( اللَّهُم ارزُقنَا مِن تُراثِ الأَرضِ وبَارك لَنا فِي مُدِّنَا وصَاعِنَا ) الأدب المفرد (ص: ١١٠)

(اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْفَقْرِ وَالْقِلَّةِ وَالذِّلَّةِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ ). سنن أبى داود-ن (١/ ٥٦٦)

**٩- نكاح كول:** د هغو اسبابو د جملې څخه چې د رزق او روزۍ د زيادت او پراخۍ سبب ګرځي نكاح كول دي.

قرآن كريم په دې برخه كې صراحتًا وايي: {وَأَنْكِحُوا الْأَيَامَى مِنْكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ}النور: ٣٢

ترجمه:- او په تاسو كې د بې واده خلكو (ښځې وي او كه سړي) نكاح كوئ او په خپلو مريانو او وينځو كې دنيكانو صالحو (هم نكاح كوئ) كه چيرې (دغه ذكر شوي خلک) فقيران وي (نو) الله به دوی له خپله فضله غنيان كړي او الله د پراخۍ والا ښه عالم دی.

عبدالله بن مسعود رضي الله فرمايلي دي: (التمسوا الغنى في النكاح، وتلا هذه الاية.

وقال عمر رضى الله عنه: عجباً ممن لا يطلب الغنى في النكاح، وقد قال الله تعالى:" إن يكونوا فقراء يغنهم الله من فضله ". تفسير القرطبي (١٢/ ٢٤١)

**١٠-دحج او عمرې ترمنځ پيوستوالی:** د هغو اسبابو له جملې څخه چې رزق او روزي زياتوي د حج او عمرې پيوسته ادا كول دي. په حديث شريف كې راځي: (عن عبد الله بن مسعود قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم تابعوا بين الحج والعمرة فإنهما ينفيان الفقر والذنوب كما ينفي الكير خبث الحديد والذهب والفضة وليس للحجة المبرورة ثواب إلا في الجنة). سنن الترمذي (٣/ ١٧٥)

**١١- دحلال رزق كسب:** د هغو مادي لارو څخه چې رزق او روزي زياتيږي دحلال كسب دی لكه تجارت ، زراعت او نور مختلف كسبونه. الله تعالى فرمايلي دي: {هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ} الملك:١٥

ترجمه:- دی همغه ذات دی چې تاسو لپاره يې ځمكه تابع ګرځولې ده نو تاسو ددې په اوږو(اطرافو لارو) كې ګرځئ او ددغه (الله) له رزق نه خورئ او خاص ده ته (ستاسو) بيا ژوندي راپورته كيدل دي.

**وأسأل الله عز وجل أن يمن علينا وعلى المسلمين برزق حلال طيب مبارك فيه. والحمد لله رب العالمين**